
Fact Sheet

# AFGHANISTAN

UNEP

## د افغانستان چاپیریالی معلوماتو مرکز (AEDC)






په افغانستان کې ایکولوژیکی بدلونو په هکله معلومات مختلف دي، خو د حقایقو په اړه لا ډیر کمزوري دي. په عین وخت کې، کولای شو چې چاپیریالی بدلونونه لکه د اوبو کموالي او د حرارت درجې زیاتیدل محسوس کړو. د پالیسی جوړونکو لخوا د سازګارۍ په هکله د حقایقو پر بنسټ تصمیمونو نیول یو مبرم ضرورت دی. د افغانستان چاپیریالی معلوماتو مرکز (AEDC) یوه داسی پروژه ده چې د افغانستان چاپیریال ساتنې ملي اداري (NEPA) او د ملګرو ملتونو چاپیریال پروګرام (UNEP) لخوا په لاره اچوول شویده، چې ټولو ذیدخلو خواوو لپاره چې د افغانستان د پایدارۍ راتلونکي سره علاقمند دي، د جیوسپیشل، تکنالوژۍ او زیربناوو په اړه معلومات برابروي. د افغانستان چاپیریالی معلوماتو مرکز(AEDC)، پر متعددو اساسی محوررونو، له ډیرو نویو او مختلفو طریقو سره د وړتیاوو جوړولو، د چاپیریال په برخه کې د تکنالوژۍ او شبکه بندۍ حمایت چې د نړیوالو بدلونو له ننګوونو سره د مقابلې لپاره مرسته کوی، ولاړه ده.

### د AEDC مختلفې برخې:

#### د چاپیریالي معلوماتو لپاره انترنیتي شبکه:

د افغانستان جیوسپیشل معلومات خواره واره دي او په مرکز کې د لاسرسۍ وړ ندي. نوځکه AEDC د GIS یو انترنیتي پلاتفورم دی چې د ټولو چاپیریالي معلوماتو- له جیولوژی نیولې تر بیولوژی او اقلیم پورې، یو جامع کلکسیون لری.

#### چاپیریالی ورکشاپونه:

د وړتیاوو جوړول د AEDC هسته تشکیلوی. نو ځکه AEDC په مرکزکې موجودو چاپیریالی تحلیلونو او جیوسپیشل معلوماتو ته لاسرسۍ او کاروونې په هکله د مرکزی او ولایتي کچې شریکبانو لپاره ورکشاپونه طرح او وړاندی کوی.

#### کتابتون د یوې مرجع په توګه:

په افغانستان انترنیت ته لاسرسي لا محدود دی او چاپیریال پوری اړوند ډیر معلومات له انترنیټ څخه تر، په ځانګړی توګه په رسمی ژبه لکه پشتو او دری، لاسه کول ناشونې دی. نو لدې امله AEDC یو کتابتون هم شامل کړې دی چې په کابل پوهنتون کې موقعیت لری او د محصلینو او څیړونکو لپاره چاپیریال پوری اړوند بنسټیز معلومات برابروی.

#### د ځینو سیمو فزیکي نمونې:

د ځمکې د یوې برخې په فزیکي نمونو او د فزیکي پروسو او پرمختیایی پلانونو په پیژندلو او تشریح کې مرسته کوی او ذیدخلو خواوو لپاره د ځمکې طبیعی عوارضو او طبیعی خطرونو تر مینځ متقابلې اغیزې، ښیی.

#### د جیوسپیشل لابراتوار:

نقشې او شکلونه، چاپیریال پوري اړوندو ټولو اړخونو په هکله یو جامع او ژور لاسرسی برابروی. د جیوسپیشل په لابراتوار کې د جیوسپیشل ټول ډولونه لکه فضایی/له لیري فاصلې سروی، اقلیم، د ځمکې پوښښ، ټولنیز او اقتصادي معلومات، پر حقایقو ولاړ تصمیم نیولو لپاره د معلوماتو برابرول، پروسس کیږي.

#### د افغانستان چاپیریالی معلوماتو مرکز(AEDC)، عبارت دی له:

- د جیوسپیشل د نویو نظریاتو د پالنې ځای چي په افغانستان د تصمیم نیونو لاربښودنه کوی
- له ټولو شریکبانو سره د چاپیریالي معلوماتو د راټولولو فهرست جوړولو او شریکولو لپاره یو پلاتفورم دی
- د جیوسپیشل تخنیکونو لکه GIS او له لري واټن څخه سروېو لپاره د پوهنې یو مرکز
- چاپیریال پوری اړوندو موضوعاتو په هکله د وړتیاوو جوړولو یو مرکز
- د متعددو اړخونو لرونکې، جامع او د منسجمو طریقو لرونکې یوه پروژه
- د یوه پایښت لرونکي افغانستان په لور یو کوچنې ګام

ESTONIAN DEVELOPMENT COOPERATION

UKaid from the British people

gef